ISSUE 74 APRIL 2024

خانه نو نوی کور

New Home

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی

A news service for Afghans in America

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture. It’s reported and written by Hussain Ali Haidari.



Photo Credit: Hussain Haidari

# د داعش د بریدونو له زیاتیدو وروسته نړیواله اندیښنه

- د داعش او امریکا اندیښنه
- په مسکو کې د داعش خونړی برید
- طالبان: داعش ډله د اسلام د بدنامولو لپاره جوړه شوي ده

Illustrator Credit: CVT

**د داعش د بریدونو له زیاتیدو وروسته نړیواله اندیښنه**

د روسیې په پلازمېنه مسکو کې د اسلامي دولت ډلې (داعش) د خراسان څانګې له خونړي برید وروسته دغه ډله یو ځل بیا د یوه ستر نړیوال ګواښ په توګه راپورته شوه. د روسیې پلازمینه مسکو د جمعې په ورځ د کنسرت په تالار کې د خونړي وسله وال برید هغه برید چې په ترڅ کې یې تر ۱۴۰ زیات کسان ووژل شول. روسیې ادعا کړې چې د تاجکستان هغه څلور وسله وال چې په کنسرت یې برید کړی غوښتل له برید وروسته اوکراین ته وتښتي. د طالبانو د بهرنیو چارو وزارت په یوه بیان کې په مسکو کې وسله وال برید «ترهګریز» بللی او ویلي یې دي چې داعش ډله په افغانستان او د نړۍ په نورو سیمو کې ملکي وګړي په نښه کوي. د طالبانو د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې داعش د "استخباراتي سازمانونو یوه وسیله ده چې هدف یې اسلام بدنامول او په ټوله سیمه کې ګواښونه رامینځته کول دي.» د طالبانو استخباراتو ته منسوبې رسنۍ المرصاد د مسکو برید په اړه غبرګون ښودلی او لیکلي یې دي چې ټول برید کوونکي تاجکستاني اتباع وو چې له اوکراین څخه مسکو ته داخل شوي وو. له بلې خوا د امریکا د پوځ متقاعد جنرال مارک کوانټوک د داعش د لیوالتیا په اړه خبرداری ورکړی چې پر امریکا برید وکړي. هغه وویلي دي چې امریکا اوس هم د داعش لومړی هدف دی. امریکایي کارپوهانو هم خبرداری ورکړی، چې د داعش خراسان څانګه زړوره شوې او له سیمې د لویو اهدافو اوبریدونو په لټه کې ده. د دوی په وینا، داعش کولی شي د امریکا او مکسیکو ترمنځ د سرحدي ګډوډۍ څخه د لوی برید لپاره ګټه واخلي. هغه وروسته چې ابوبکر البغدادي د ۲۰۱۴ کال د جون په شلمه د عراق د موصل په جومات کې راښکاره شو او د خلافت اعلان یې وکړ، نو هغه مهال کم خلک په دې باور وو چې داعش به د نړۍ یوه تر ټولو خطرناکه او بډایه تروریستي شبکه وګرځي. د عراق ځلوېښت سلنه خاوره او د سوریې یو پر دریمه برخه خاوره د دوو کلونو لپاره داعش ونیوله.

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ**

**651-504-8170**

په عراق او سوریه کې له پرله پسې بریاوو وروسته، داعش په ۲۰۱۵ کال کې د لومړي ځل لپاره اعلان وکړ چې د خپل فعالیت ساحه منځنۍ اسیا ته غځوي او د داعش د خراسان ولایت د بیا ژوندي کولو فکر کوي. د داعش د رامنځته کېدو د څرنګوالي او لاملونو په اړه د بحث تر څنګ په دې لیکنه کې په خراسان کې د داعش د رامنځته کېدو او د دغې شبکې د رامنځته کېدو له وخته تر اوسه پورې د دغې شبکې د رهبرۍ پر معرفي کېدو تمرکز کوو. په ۲۰۱۵ کال کې داعش د تحریک طالبان پاکستان (TTP) مهم غړی حافظ سعید د مشر په توګه اعلان کړ او عبدالروف علیزی چې په عبدالرؤف خادم مشهور و او عبدالحسیب د داعش خراسان شبکې د مرستیالانو په توګه اعلان کړل. په دې توګه په ۲۰۱۵ کال کې په افغانستان کې د داعش خراسان فعالیت پیل شو. د ۲۰۱۵- ۲۰۱۸کلونو ترمنځ، داعش خراسان وتوانید چې د ابو عمر الشیشاني روزنیز کمپ په ګډون په کونړ او ننګرهار ولایتونو کې تعلیمي او روزنیز کمپونه جوړ کړي چې د دې ډلې د عراقي او سوري غړو لخوا اداره کیده. دغې ډلې د خپلو رسنیو له لارې د دغې شبکې د هغو غړو ویډیوګانې او انځورونه خپاره کړل چې په هغه وخت کې فعال وو. که څه هم د دغې ډلې د غړو کره شمېره هیڅ نه ده معلومه، خو د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو تر منځ د راپورونو له مخې په خراسان کې د داعش د غړو شمېر له درې تر څلورو زرو پورې اټکل شوی دی. په خراسان کې د داعش اوسنی مشر ثناالله غفاري دی چې په شهاب المهاجر مشهور دی. نوموړی په ۱۹۹۰ کال کې د کابل ولایت د میربچه کوټ ولسوالۍ په خروټي کلي کې زېږېدلی دی. هغه له داعش سره تر یو ځای کېدو مخکې د طالبانو له حقاني شبکې سره نږدې اړیکي او همکاري درلوده. نوموړی د کابل پوهنتون محصل و او د معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې ښه مهارت لري. د خپل ځوان عمر سره سره، هغه په مهارت سره د هغو استخباراتي شبکو څخه لیرې پاتې شوی چې په تیرو څلورو کلونو کې یې تعقیبوي. د خراسان د داعش د مشرانو په منځ کې غفاري تر ټولو ډېر وخت تېر کړی، چې دا د ده د ځیرکتیا څرګندونه ده. د هغه د اوسیدو ځایونه په شمال کې د بغلان ولایت او د افغانستان په ختیځ کې د کونړ او ننګرهار ولایتونه دي. که څه هم په ۲۰۲۳ کال کې په خراسان کې د داعش د بریدونو شمېر د ۲۰۲۲ کال په پرتله له ۱۱۲ بریدونو څخه ۲۲ بریدونو ته راټیټ شوی، خو باید هیر نکړو چې د اهمیت او کیفیت له پلوه د تېرو کلونو په پرتله په ښه حالت کې وو او دا د دې ښودنه کوي چې دغه ترهګره شبکه بیا ژوندی شوي ده.